# د بیمار تپوس له ورتللو واقعې

پښتو



شيخ طريقت، اَمِيرِ اَهلسنّت، باني دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا ابوبلال

مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د بيمار د تپوس واقعات

**د عطار دعا:** يا رَبَّ الْمُصطفٰی! څوک چې دا رساله ”د بيمار د تپوس واقعات“ اولولي يا واوري نو هغه د مسلمانانو خيرخواه جوړ کړې، د آفتونو او مصيبتونو نه د هغه حفاظت اوفرمائې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قيامت په ورځ به د الله پاک د عرش نه سوا څه سورے نه وي، درے کسان به د الله د عرش په سوري کښې وي. تپوس اوکړے شو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه به کوم خلق وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: (1) هغه کس چې زما د اُمتي پريشاني لرې کړي (2) زما سنت ژوندي کولو والا (3) په ما باندې ډير ډير درود شريف لوستلو والا. (البدور السافرة، ص131، حديث:366)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## زما بچيه ژاړه مه!

د مسلمانانو خوږه مور اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت بي بي عائشه صِدّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځلې په خپل محفل کښې موجود اُو نه موندلو نو صحابه

كرامو نه ئې د هغه په باره كښې تپوس اوكړو: عرض اوكړے شو: د هغه ډيره سخته تبه ده ، د دې سبب په وجه صحابه كرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم به د هغه په ځوانئ كښې د وفات كيدلو ګمان كولو، د اُمَّت غمخوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ته ارشاد اوفرمائيلو: راځئ! مونږه د هغه تپوس له لاړ شو. كله چې د غمژنو غم لرې كوونكے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه خوا ته اورسيدلو نو هغه په ژړا شو. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اوفرمائيل: اے زما بچيه! ژاړه مه! ځكه چې ماته جبرائيل (عَلَيْهِ السَّلَام) خبر راكړے دے چې تبه زما د امت د پاره د جهنم نه حصه ده. (كشف الغمه فى فضل الحمى للسيوطى، ص13)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغه رحمت وي او د هغه په بركت دې زمونږه بے حسابه مغفرت وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُبْحٰنَ اللّٰه! هغه بدنى بيمار خو بختور (يعنى خوش قسمته) د صحابي مبارک په قدمونو باندې دې د دنيا ټول صحت قربان وي. د هغه بيمار تپوس د پاره د طبيبانو طبيب، د الله پاک خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو. چا ډير ښه وئيلي دي :

سر بالیں انہیں رحمت کی ادا لائی ہے　　حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے

(ذوق نعت، ص250)

اے عاشقان صحابه و اهل بيت! د خپل اُمَّت سره محبت كوونكے خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيان كړے شوې واقعے كښې د خپل صحابي په نه ليدلو باندې خيريت معلومول او تپوس له ورتللو انداز مبارک ته ډير ډير هركلے! كاش! چې مونږه هم

د خپل مسلمان وروڼرو خبر اخستلو (خير، خيريت تپوس كولو) عادت جوړ كړو، چرته چې د الله پاک د رضا د پاره كړې شوې تپوس كولو په وجه به تا ته د غټ ثواب زيرے ميلاو شي، هلته د يو مسلمان په زړه كښې به ستا محبت هم زيات شي، ځنګه چې د الله پاک خوږ آخرى نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: كوم كس چې د يو مريض تپوس كوي نو يو اعلان كوونكے د اسمان نه اعلان كوي، ته خوشحاله شه چې ستا دا تلل مبارک دي او تا په جنت كښې خپل ځائ جوړ كړے دے.

(ابن ماجه، 2/192، حديث: 1443)

يو بل حديث پاک كښې دي: كوم كس چې د يو مريض تپوس له ځي نو الله پاک په هغه باندې د پينځه اويا زره (75,000) فرښتو سورے كوي او د هغه په هر قدم اوچتولو باندې د هغه د پاره يوه نيكي ليكي او هر قدم ايښودلو باندې د هغه يوه ګناه ورانوي او يوه درجه اوچتوي تر دې پورې چې هغه په خپل ځاې كښيني، كله چې هغه كښيني نو رحمت هغه پټوي او خپل كور ته بيرته راتلو پورې رحمت هغه پټ ساتي.

(معجم اوسط، 3/222، حديث: 4396)

خوږو او محترمو اسلامي رونړو! په سنت باندې د عمل په نيت د خپل مسلمان وروڼرو تپوس اوكړئ او ښه ثواب اوګټې او آؤ! [د بيمار] تپوس صرف پيژندګلو والا كول سنت نه دي بلكه امام ابو زكريا يحيٰي بن شرف نووى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: تپوس كول د هر چا سنت دے، كه هغه پيژني او كه نه، كه هغه خپل وي او كه پردے.

(شرح مسلم للنووى، 13/13)

که د دې د پاره ئې د بيمار تپوس اوکړو چې کله زه بيمار ووم نو هغه هم زما د بيمارئ تپوس له راغلے وو نو ثواب به ميلاو نه شي.

## لمُونځ کوونکي وروڼه اولټوئ

د مسلمانانو دويم خليفه، اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ فرمائي: "په لمَانځه کښې چې خپل وروڼه اُونه مومې نو هغه اولټوئ. که بيمار وي نو د هغه تپوس له ورشئ. که روغ جوړ وي نو هغه ملامته کړئ. (ملامته نه مراد جماعت پريښودو باندې خبردارې ورکول چې په دې کښې سُستي نه دې کول پکار).

(احياءالعلوم، 1/258)

## امام صاحبانو ته مدني مشوره

اَمِيرِ اَهلِسُنَّت حضرت عَلَّامه مولانا محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په خپل منفَرِد کتاب "فيضانِ نماز" کښې فرمائي: د جمات امامانو صاحبانو په خدمت کښې مشورةً عرض دے چې هغه د خپلو مقتديانو څارنه اوکړي چې په هغوئي کښې څوک په جمعې سره لمُونځ کوي او څوک نه کوي، که څوک لمُونځ کوونکے يو لمَانځه ته حاضر نه شي نو د هغه دکان يا کور ته دې ورشي يا دې په فون خبر واخلي، که بيمار شوے وي نو تپوس له دې ورشي او که د سُستي په وجه نه وي راغلي نو د نيکئ دعوت دې ورکړي او ټول اسلامي وروڼو له هم دا انداز اختيارول پکار دے. اسلامي خويندو له هم پکار دي چې د خپلو بچو پلار وي هغوئي ته هم او

نورو محارمو باندې هم په جمعې سره د لمُونځ کولو متعلق اِنفِرادي کوشش اوکړي. د سګ مدينه عُفِيَ عَنْه خواهش دے چې کاش! ټول لمُونځ کوونکي، لمُونځ کوونکي بلکه تهجد ګزاره جوړ شي. (فیضانِ نماز، ص223)

جماعت کا جذبہ بڑھا یا الٰہی! ہو شوق تہجّد عطا یا الٰہی!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ترغیب د پاره پوره د ترغیب نمونه جوړه شوه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ضروري نه ده چې سخته بیماری وي نو د بیمار تپوس دې اوکړے شي بلکه په ظاهره وړوکې په نظر راتلونکے مرض یا زخم او تکلیف باندې د چا سره همدردي کولو او غمژن مخ جوړولو خیرخواهي اوکړو نو د دې سره هم د هغه زړه خوشحاله کیدې شي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د محبت زیاتیدو سبب به جوړ شي . بانئ دعوت اسلامی اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا عادت دے کله چې څوک د بیمارئ په حال کښې یا داسې اسلامي ورور اووینې چې د هغه په لاس معمولي شان پټې تړلې وي نو همدردي او خیرخواهي فرمائیلو سره حال معلومه وي او د روغ صحت لپاره دعا غواړي. د عاشقان رسول د اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه د بیمار تپوس یا دعا اخستل خوش دیدنی (یعني د لیدلو قابل) وي. زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د خپل خوږ صحابي په سترګو کښې تکلیف له وجې د هغه تپوس کړے وو. څنګه چې په یو حدیثِ پاك کښې دي: حضرت زید بن ارقم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْه ارشاد اوفرمائیل: زما په سترګو

(آشوب چشَم) راغلے وو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما تپوس اوفرمائيلو.

(ابوداود، 3/250، حديث:3102)

حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديث پاک لاندې فرمائي: د دې نه معلومه شوه چې معمولي بيمارئ کښې هم د بيمار تپوس (يعني عيادت) کول سنت دي دغه شان سترګه يا غوږ يا د غاښونو درد اګر چې دا خطرناک نه دي خو بيماري خو ده.

(مراٰۃ المناجيح، 2/415)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د امير اَهلِ سُنَّت پيغام

رَبِيْعُ الْاٰخِر1438 هجري، بمطابق جنوري 2017ء کښې کړے شوي يوه مدني مشوره کښې اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دعوت اسلامی ذمه وارانو ته څه دغه شان خپل نصيحتونه اوکړل: ”تول اسلامي وروڼه اګر که هغه د دعوت اسلامی ديني ماحول سره وابسته وي او که نه وي، د هغوئي په خوشحالئ او غم کښې حصه اخلئ، خاص طور په غم کښې د بيمار تپوس او د مړي د مغفرت دُعا کښې کوتاهي مه کوئ. په خوشحالي کښې که حصه وانخلئ نو دومره بده به نه لګي خو په تکليف کښې که حصه وانخلئ نو ډير بد به لګي.“ (مرکزی مجلس شوریٰ کے مدنی پھول)

سنتیں شاہ مدینہ کی تو اپنائے جا دونوں عالم کی فلاح اس میں مرے بھائی ہے

(وسائل بخشش، ص496)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## په مسلمانانو باندې کمال مهربان

اے عاشِقانِ رسول! "د بیمار تپوس کول او مړې د پاره د مغفرت دعا کول زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډیر خوږ سنت دې او رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مدینے مُنَوَّرې خواو شا اوسیدونکي صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم خوا ته تشریف وړلو او د بیمار تپوس به ئې کولو. دا د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمال درجے عاجزۍ او د رحم کیدونکي دلیل دے. حضرت علامه علی قاري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: کوم صحابه کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم به چې حاضر نه وو نو سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئی په باره کښې پوښتنه کوله، که څوک به بیمار وو نو د هغه به ئې تپوس کولو یا څوک مسافر به وو نو د هغه دپاره به ئې دعا کوله، او که د چا څوك وفات شوې وو نو د هغوئي د پاره به ئې د مغفرت دعا فرمائیله او د خلقو د معاملاتو تحقیقات کولو سره به ئې د هغوي اصلاح فرمائیله. (جمع الوسائل، 177/2) خلیفهٔ اعلٰی حضرت مولانا جمیل الرحمن رضوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه په بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي:

هر دم ہے تمہیں اپنے غلاموں پہ عنایت　　دن رات کا یہ کار ہے سرکار تمہارا

(قبالهٔ بخشش، ص47)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې روایاتو کښې مونږ د حضور غلامانو د پاره هم مدني ګل دے چې مونږ به هم د بیمار تپوس کوو ځکه چې دا د مسلمانانو د حقونو نه

دي. کله چې د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دوارو جهانونو سردار کيدو سره د خپلو صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان خواته تشريف وړے شي نو مونږه عاشقانِ رسول له هم دغه د مصطفٰی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا خپلول پکار دي، رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو صحابه کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام خوا له تشريف وړلو نورې واقعے اوګورې او نيت اوکړې چې مونږ ته هم د چا د بيمارئ يا د چا د مرګ وغيره خبر ميلاو شي نو د اُمَّت خيرخواهئ د پاره همدردي و د زړه د خوشحالولو جذبے سره څومره کيدے شي، په دې سنتِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل اوکړو، اِن شاءَالله!.

## د خوږ آقا ﷺ د صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د تپوس فرمائيلو 11 واقعات

### (1) د ووه ورځو نه تبه

د الله پاک خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **حضرتِ ذُوالنُّخَامَه** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خواته د هغه تپوس له تشريف يوړو، د هغه تبه وه، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته ارشاد اوفرمائيل: تا ته د کله نه تبه ده؟ عرض ئې اوکړو: د ووه ورځو نه. ارشاد ئې اوفرمائيلو: تا ته اختيار دے، که ته غواړې نو ستا د پاره دعا اوکړم چې الله پاک تا له روغ صحت او شفا درکړي او که غواړې نو صبر اوکړه. درې ځله ئې دا ارشاد اوفرمائيلو: بيا ئې اوفرمائيل: ته به د بيمارې نه په داسې حال کښې اوځې لکه څنګه چې د خپلې مور د خيټې (يعني بغير د څه ګناه) نه راوتلې وې. هغوئ عرض اوکړو: يارسولَ الله

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه به صبر اوکړم. (موسوعة لابن ابي الدنيا، 4/295، حديث: 245)

ہر وقت ترقی پہ رہے درد محبت    چنگا نہ ہو مولیٰ کبھی بیمار تمہارا

(قبلہ بخشش، ص47)

د شعر مطلب: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم !کاش! ستا محبت دې زما په زړه کښې هر وخت زیاتیږي. او زه ستا په محبت کښې داسې بیمار شم چې بیا کله روغ نه شم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب    صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## تولې خطاګانې ورانوي

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د تبې د فضائلو به څه وائې! حدیث پاک کښې دي: بیشکه الله پاک د مومن د یوې شپې د تبې په وجه د هغه تولې خطاګانې ورانوي. (شعب الايمان، 7/167، حديث:9866) لوئ تابعي بزرګ حضرت حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: صحابۀ کرام عَلَیْہِمُ السَّلَام به امید کولو چې د یوې شپې تبه د تیر شوي تول ژوند د ګناهونو کفاره ده. (شعب الايمان، 7/167، حديث:9867)

جو ہیں بیمار صحت کے طالب    ان پہ فرما کرم ربّ غالب
تجھ سے رحم و کرم کی دعا ہے    یا خدا تجھ سے میری دعا ہے

(وسائل بخشش، ص136، 137)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب    صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د یوې شپې دتبے فضائل

صحابي رسول حضرت ابو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د یوې شپې تبه د یو کال ګناه ورانوي. (موسوعة لابن ابي دنيا، 239/2، حديث:50)

حضرت امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: داسې څکه ارشاد اوفرمائیلے شو چې تبه د ټول کال طاقت ختموي او دا هم وئیل شوي دي چې" د انسان 360 جوړونه دي" (ابوداود، 461/4،حديث:5242) او د تبې اثر په هر جوړ باندې وي. (مصنف ابن ابي شيبه، 99/7،حديث:10922) لهٰذا هر هر جوړ تکلیف محسوسوي، په دې وجه هر جوړ د یوې ورځې کفاره جوړیږي. (احياء العلوم، 356/4)

یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر　　یہ مَرَض تیرے گناہوں کو مٹاجاتا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 432)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب　　صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## (2) د جهنم ګرمي

عظیم تابعي بزرګ حضرت عروه بن زبیر رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن، حضرت عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا نه روایت کوي (کومه چې د هغوئي ترور یعني د مور خور وه) چې یو ځل نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قبیله بنو غفار یو کس تپوس له تشریف یوړلو. نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "تبه د جهنم د ګرمئ نه ده او دا د جهنم نه د مومن حصه ده." بیا نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه دپاره دعا اوکړه: "اے الله پاکه! د ده ارمان پوره کړه". هغه

یو اسویلے اوکړو او وفات شو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: "زما په اُمَّت کښې څه خلق داسې دي که (په څه معامله کښې) هغوئي په الله پاک باندې قسم اوخوري نو الله پاک د هغوئي قسم ضرور پوره کوي. (حلیۃالاولیاء،2/208، حدیث:1960، رقم171)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغه رحمت وي او د هغه په برکت دې زمونږه بے حسابه مغفرت وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نجم کی اے خدا آرزو ہے یہی　　عاشقِ زار کی آبرو ہے یہی
موت کے وقت سر اُن کے قدموں میں ہو　　دید ہوتی رہے دم نکلتا رہے

اے عاشِقانِ رسول! ارمان ډیر ډیر ارمان! کله چې زمونږه د دُنیا نه د رخصتیدو وخت راشي نو هغه وخت نور والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل نوراني مخ څلولو، نور را وریدلو سره تشریف راوړي او مونږ ته کلمه اووائي بیا هم په هغه ښکلې او زړه راښکونکې جلوو کښې زمونږه روح د بدن نه جدا شي. قسم په خدائ! مقصد به حاصل شي. زما آقا اعلٰے حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه داسې دعا کوي:

یاالٰہی بُھول جاؤں نزع کی تکلیف کو　　شادیِ دِیدار حُسنِ مصطفٰے کا ساتھ ہو

(حدائقِ بخشش، ص132)

د شعر مطلب: اے زما خوږه خوږه الله پاکه! زه د مرګ په وخت کیدونکې تکلیفونه هیر کړم که هغه وخت ستا د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلې او روښانه ښائسته مخ دیدار اوشي. ارمان ډیر ډیر ارمان! چې داسې اوشي.

زما شیخ طریقت، اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هم خپله دا آرزو په شعر

كېنبي څه دغه شان ليكي:

یہ عرض گنہگار کی ہے شاہِ زمانہ
جب آخِری وَقت آئے مجھے بھول نہ جانا

سَکرات کی جب سختیاں سرکار ہوں طاری
لِلّٰہ! مجھے اپنے نظاروں میں گمانا

جب دم ہو لبوں پر اے شَہَنشاہِ مدینہ
تم جلوہ دِکھانا مجھے کلمہ بھی پڑھانا

آقا مِرا جس وَقت کہ دم ٹُوٹ رہا ہو
اُس وَقت مجھے چہرۂ پُرنور دِکھانا

(وسائلِ بخشش، ص 352)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (3) د عثمان غني رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د بيمارئ تپوس كول

د مسلمانانو دريم خليفه، اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن حضرت عُثمان غني ذُوالنُّوْرَيْن رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: كله چې زه بيمار شوم نو رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما تپوس اوفرمائيلو او بار بار ئې دا كلمے لوستل:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. اُعِيْذُكَ بِاللّٰهِ الْاَحَدِ الصَّمَدِ الَّذِىْ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ مِّنْ شَرِّ مَا تَجِدُ.

ترجمه: د الله په نوم شروع كووم چې مهربانه او رحم كوونكے دے. زه تا له د هغه تكليف د شر نه كوم چې تا ته دے [د هغې نه] د الله پناه دركوم چې يو دے، بے نيازه دے، نه د هغه څه اولاد شته او نه هغه د چا نه پيدا شوے دے او نه د هغه څوك برابر شته. (احياء العلوم، 262/2) د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دې

زمونږه بے حسابه مغفرت وي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

جو دل کو ضیا دے جو مقدّر کو جِلا دے وہ جلوۂ دیدار ہے عثمانِ غنی کا

ہر صحابیِ نبی! جنّتی جنّتی

چار یارانِ نبی! جنّتی جنّتی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (4) د مولا علی په بارګاه کښې د تبے حاضری

د مسلمانانو څلورم خلیفه، اَمِیۡرُ الۡمُؤۡمِنِیۡن، حضرت مولا علي مشکل کشا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بیمار شو نو رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه تپوس له تشریف راوړو او هغه ته ئې ارشاد اوفرمائیلو: اووایه:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُكَ تَعۡجِیۡلَ عَافِیَتِكَ اَوۡ صَبۡرًا عَلٰی بَلِیَّتِكَ اَوۡ خُرُوۡجًا مِّنَ الدُّنۡیَا اِلٰی رَحۡمَتِكَ.

ترجمه: اے الله! "زه ستا نه زر زر د روغ صحت یا ستا له طرفه راتلونکي مصیبت باندې صبر کولو یا د دُنیا نه ستا د رحمت په طرف وتلو سوال کوم". کله چې ته دا اووائې نو تا ته به دا درې (یعني زر روغ صحت، په خپل مرض باندې صبر یا دنیا نه د الله پاک رحمت په طرف واپس کیدل) د دې نه به یو درکړے شي. (مسند الشهاب، 3/333، حدیث: 1470، احیا العلوم، 2/262)

د الله رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په برکت دې زمونږه بے حسابه مغفرت وي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (5) د برکت دعا

په یو بل روایت کښې دي: سرکار عالي وقار، د مدینے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ خوا ته تشریف راوړو، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته د ډیرې سختۍ تبے په وجه په بستره آرام نه ورتلو. رسولِ انور، محبوب ربِّ اکبر صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: اے علي! بیشکه په دنیا کښې د ټولو خلقو نه زیات په ازمیښتونو کښې انبیاء کرام (عَلَیْهِمُ السَّلَام) اخته کړے شوي دي. او (هغې نه پس) هغه خلق کوم چې د هغوئي سره میلاؤ شوي وي بس تا ته دې مبارک شي! چې تا ته په دې کښې ثواب دے. آیا ته غواړې چې دا (تبه) ستا نه لرې کړے شي؟ حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض اوکړو! آو جي! ارشاد ئې اوفرمائیلو: نو بیا دا اووایه:

اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ عَظْمِيَ الدَّقِيْقَ وَجِلْدِيَ الرَّقِيْقَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ فَوْرَةِ الْحَرِيْقِ
يَا اُمَّ مِلْدَمٍ! اِنْ كُنْتِ اٰمَنْتِ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا تَاْكُلِي اللَّحْمَ وَلَا تَشْرَبِي الدَّمَ
وَلَا تَفُوْرِي عَلَى الْفَمِ وَانْتَقِلِيْ اِلٰى مَنْ يَّزْعَمُ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَاِنِّيْ اَشْهَدُ
اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

ترجمه: اے مولائے کریم! زما په نرم هډوکو او کمزوري خرمن باندې رحم اوکړه، او اے الله پاکه! زه د سختۍ ګرمۍ نه ستا پناه غواړم، اے مور د ملدم! (دا د تبے نوم دے) که ته په الله او آخرت باندې ایمان ساتې نو زما غوښې مه خوره او زما وینه مه څښه او ته زما د خُلے په طرف مه راځه او نه زما د سر په طرف راخیژه، ته د هغه چا په طرف لاړه شه کوم چې ګمان کوي چې د الله نه سوا بل خدائ هم شته دے، بے شکه زه ګواهي ورکووم چې د الله نه سوا هیڅ

خوک د عبادت لائق نشته او محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د هغه خاص بنده او رسول دے.

مولا علی مشکل کشا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مه چې کله دا دُعا اولوستله نو هغه وخت ما ته د تبې نه آرام راکړلې شو.(یعني تبه لاړه) امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: مونږه اهل بیتو به یو بل ته دا دعا زده کوله، تر دې چې خپلو ښځو او ماشومانو ته به مو هم زده کوله. چا به هم چې دا لوستله، که د هغه د مرګ وخت نه وو راغلې نو هغه ته به عافیت ور کړے کیدلو (یعني بیماري به ترې لرې کیدله). (کتاب الدعاء للطبراني، ص342، حدیث: 1123)

عاشقِ مصطفیٰ مُرتضیٰ مرتضیٰ
سیِّدُ الاولیاء مُرتضیٰ مرتضیٰ
خائفِ کبریا مُرتضیٰ مرتضیٰ
متّقی پارسا مُرتضیٰ مرتضیٰ
دو گُناہ سے دوا مُرتضیٰ مرتضیٰ
مجھ کو نیک دو بنا مُرتضیٰ مرتضیٰ
بھیک دیجئے شہا مُرتضیٰ مرتضیٰ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مرض به لرې شي

**امام عَجْلُونی شَافِعِی** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه روایت کوي چې حضرت علی رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما تپوس اوکړو او ارشاد ئي اوفرمائیلو: د کوم بیمار د مرګ وخت

چې نه وي راغلے که ته (د هغه د پاره) په دې الفاظو سره د الله پاك نه اووه ځله پناه اوغواړې نو الله پاك به هغه مرض د هغه نه سپک ( يعني لرې) کړي.

اَسْئَلُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ اَنْ یَّشْفِیَكَ ترجمه: زه اوچتې مرتبې والا الله، د عرش عظيم مالک نه ستا د پاره د شفا سوال کووم.

(کشف الخفاء، 1/110، تحت الحدیث: 348 کتاب الدعاء للطبرانی، ص339، حدیث: 1113)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## (6) تبے ته بد مه وايه

اے عاشقانِ صحابه و اهل بیت! د الله پاك آخري رسول صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم سره سره، خپل اهل بيت (يعني کور والؤ) نه به چې څوک بيمار شو نو د هغوئي به ئې هم تپوس کولو. مونږ له د بَهَر د خلقو سره سره د کور والؤ هم خيال ساتل پکار دی، چرته داسې نه وي چې د ټولو ملګرو تپوس کيږي او په خپل کور کښې موجوده بيماره مور يا کمزور پلار يا د بچو مور وغيره د بيماري نه په تکليف کښې پرته وي او هغوئي سره د همدردئ او خيرخواهئ کولو وخت نه وي.

يو ځل د مسلمانانو خوږه مور حضرت بي بي عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا ته تبه راغله نو نبئ رحمت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړو (حضرت بي بي عائشه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: ما رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د تبے ذکر اوکړو او دا مې نا خوښه کړه) نو رسولُ

الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بيشكه تبه د حكم پابنده ده، ته هغې ته بد مه وايه خو كه ته غواړې نو زه تا ته داسې الفاظ اوښايم چې كله ته هغه اووائې نو الله پاك به ستا نه تبه لرې كړي: (بيا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغې ته هم هغه دعا اوښودله كومه چې حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ښودلې وه). حضرت بي بي عائشه صديقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: څنګه چې ما دا [دُعا] اووئيله نو زما تبه ختمه شوه. (كنز العمال، الجزء:10، 5/41، حديث: 28508)

کیا مُبارک نام ہے اور کیسا پیارا ہے لَقب عائشہ محبوبۂ محبوبِ ربِّ العالمین
آیۂ تطہیر میں ہے ان کی پاکی کا بیاں ہیں یہ بی بی طاہِرہ شوہر امامُ الطاہرین
(دیوانِ سالک، ص82)

زوجۂ مصطفیٰ سَیِّدہ عائشہ عابِدہ زاہدہ سَیِّدہ عائشہ
ساجِدہ صائمہ سَیِّدہ عائشہ عارِفہ عادِلہ سَیِّدہ عائشہ
عالِمہ عامِلہ سَیِّدہ عائشہ طَیِّبہ طاہِرہ سَیِّدہ عائشہ
خُلد میں داخلہ سَیِّدہ عائشہ دو خُدا سے دِلا سَیِّدہ عائشہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## د زړه ميوه

## (7) د حضرت بي بي فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د بيمارئ تپوس كول

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اولاد د زړه ميوه وي، د هغوئي تكليف په مور او

پلار ډير سخت (يعني مشکل) وي. لورياني د الله پاک رحمت دے، دا محبت کوونکي وي، چې د چا هم لور پيدا شي نو هغه دې خوشحاله شي چې الله پاك ما ته هغه نعمت راکړو چې هغه خپل خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له هم ورکړے وو. رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "لوريانو ته بد مه وائې، زه هم لوريانو والا يم. بيشکه لورياني ډير محبت کوونکي دي، غم خورې او ډيرې مهربانه وي." (مسند الفردوس، 2/415، حديث: 7556)

يو بزرګ فرمائي: ځامن نعمت دے او لورياني نيکي ده، الله پاک په نعمتونو حساب اخلي او په نيکو باندې ثواب ورکوي. (بهجة المجالس، 3/763)

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت!** د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به خپلې خوږې خوږې شهزادګۍ (يعني لور) د جنتي ښځو سرداره حضرت بي بي فاطمه زهرا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا سره ډير محبت او شفقت کولو.

د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خادم، حضرت انس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې مونږه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په جمات کښې وو تر دې چې لمَر را اوختولو، د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جمات نه بهر ته تشريف يوړلو نو زه ورپسے شوم، نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته اوفرمائيل: زما سره راځه تر دې پورې چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې خوږې شهزادګۍ حضرت بي بي فاطمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا کره تشريف يوړلو، هغه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا اوده وه، د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيل: اے فاطمه! ته تر دې وخته پورې کوم څيز په اوده کيدو باندې مجبوره کړې؟ هغې رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا عرض اوکړو: زه د

بیګکا شپې نه په تبه کښې یم. رسولُ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته ارشاد اوفرمائیل: هغه دعا چې تاته ما ښودلې وه، د هغې څه اوشول؟ عرض یې اوکړو: زما نه هیره وه. ارشاد ئې اوفرمائیلو: داسې اووایه:

يَاحَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ اَسْتَغِيْثُ اَصْلِحْ لِيْ شَاْنِيْ كُلَّهٗ

وَلَا تَكِلْنِيْ اِلٰى اَحَدٍ مِّنَ النَّاسِ وَلَآ اِلٰى نَفْسِيْ طَرْفَةَ عَيْنٍ

ترجمه: اے ژوندیه، اے نورو [خلقو لره] قائم ساتلو والا! زه ستا رحمت سره ستا مدد غواړم چې ته زما ټول کارونه ټیک کړې او ما د سترګو د رپ په مقدار په خلقو کښې بل چا ته او ما خپل ځان ته مه حواله کوې. (معجم اوسط2/368، حدیث:3565)

په هغوئي دې د الله رَبُّ الْعِزَّت رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نبی کے دِل کی راحت اور علی کے گھر کی زینت ہیں
بیاں کِس سے ہو اُن کی پاک طِینَت پاک طَلْعَت کا
اگر سالِک بھی یارب دعویٰ جنت کرے حق ہے
جو وہ زَہرہ کی ہے یہ بھی تو ہے خاتونِ جنت کا
(دیوانِ سالک، ص8987)

دُخترِ مُصطفیٰ سَیِّدہ فاطمہ   زوجۂ مُرتضیٰ سَیِّدہ فاطمہ

صالحه پارسا سَیِّدہ فاطمہ مُطلقاً باحیا سَیِّدہ فاطمہ
طیِّبہ طاہِرہ سَیِّدہ فاطمہ صابِرہ شاکِرہ سَیِّدہ فاطمہ
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (8) د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د بيمارئ تپوس كول

حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: حضرت جبرائيل عَلَیْہِ السَّلَام رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته يوه دعا اوښودله، حضرت ابُو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې كله بيمار وو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته دا دُعا ارشاد اوفرمائيله:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ سُبْحَانَ رَبِّ الْعِبَادِ وَالْبِلَادِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا اِنَّ كِبْرِيَآءَ رَبِّنَا وَجَلَالَهٗ وَقُدْرَتَهٗ بِكُلِّ مَكَانٍ اَللّٰهُمَّ اِنْ اَنْتَ اَمْرَضْتَنِيْ لِتَقْبِضَ رُوْحِيْ فِيْ مَرَضِيْ هٰذَا فَاجْعَلْ رُوْحِيْ فِيْ اَرْوَاحِ مَنْ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنْكَ الْحُسْنٰى وَبَاعِدْنِيْ مِنَ النَّارِ كَمَا بَاعَدْتَّ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنْكَ الْحُسْنٰى۔

ترجمه: د الله پاک نه سوا څوک د عبادت لائق نشته، هغه يو دے، د هغه څوک شريک نشته، هغه لره بادشاهي ده او ټول تعريفونه هغه لره دي، هغه ژوندي كول كوي او هغه مړه كول كوي او هغه ژوندے دے هغه لره مرګ نشته. الله پاک دے چې د بندګانو او ښارونو ربّ دے، هر حال كښې د الله ډير حمد دے، پاكيزه او مبارک حمد. الله د ټولو نه لوئ دے بيشكه زمونږ

د ربّ لوئي، د هغه شان، د هغه قدرت هر ځائ دے. اے الله! که تا زه د دې د پاره بيمار كړې يم چې ته زما روح زما په دې مرض كښې واخلې نو زما روح د هغه روحونو سره ميلاؤ كړې د چا د پاره چې ستا له طرفه د جنت وعده شوې ده او ما د جهنم نه لرې كړې لكه څنګه چې ته خپل دوستان د جهنم نه لرې ساتې د چا د پاره چې ستا له طرفه د جنت وعده شوې ده.

(موسوعته لابن ابي الدنيا، 4/370، حديث: 159)

ہر صحابیِ نبی! جنّتی جنّتی

سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## (9) د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د بيمارئ تپوس كول

حُضُور رحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت سلمان فارسی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په خپل مبارك محفل كښې اُو نه ليدلو نو د هغوئې په باره كښې ئې پوښتنه اوكړه: د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت مبارك كښې عرض اوكړے شو چې هغه بيمار دے. بيا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه تپوس له تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: الله پاک دې ستا اجر زيات كړي او تا ته دې ستا په دين او بدن كښې د آخري وخته پورې روغ طاقت دركړي. ستا د پاره ستا په درد كښې درې خبرې دي: اوله دا چې دا بيماري به تا ته خپل رب كريم ډير در ياد كړي. دويمه دا چې ستا به تير شوي ګناهونه ختم كړے شي. او دريمه دا چې ته دُعا اوكړه، څه څيز چې ته غواړې څكه چې په بيمارئ كښې اخته شوي كس دُعا قبليږي.

(موسوعته ابن ابي الدنيا4/249، حديث:91)

په يو بل روايت کښې دي: حضرت سلمان رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ارشاد اوفرمائيل چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما تپوس اوکړو او اوئې فرمائيل: الله دې تا ته شِفا درکړي او ستا ګناه دې اوبخښي او ستا په دين او بدن کښې دې [تا ته] د آخري ساه پورې طاقت درکړي.

(معجم کبير، 6/240، حديث: 6106)

د الله رَبُّ الۡعِزَّت دې په هغه رحمت وي او د هغه په صدقے سره دې زمونږه بے حسابه مغفرت وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

وہ دُعا جس کا جوبَن بہارِ قبول    اس نسیمِ اِجابَت پہ لاکھوں سلام

(حدائقِ بخشش، ص302)

لفظونه او د هغې معنې: جوبن: ښائست، ښکلا. نسيم: خوشبوداره هوا. اجابت:قبليدل.

شرح کلام رضا: زما آقا اعلٰی حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په بارګاهِ رسالت کښې عرض کوي: د الله پاک خوږ خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعا ښائست او حُسَن داسې دے چې د هغه اثر زر تر زره ښکاره کيږي، د هغوئې د مبارکې دعا قبليدل د هغه خوشبو کوونکې او يخې يخې هوا باندې دې ډير ډير سلام وي.

ہر صحابیِ نبی! جنّتی جنّتی
سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيب    صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (10) بيماري د ګناهونو خيرې لرې کوي

حضرت بي بي اُمِّ عَلاء رَضِیَ اللہُ عَنْہَا چې د حضرت حکيم بن حِزام رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ترور [يعني د پلار خور] او د رحمت عالم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيعت کوونکې نيک اخلاقو صحابياتو نه ده، هغوئي فرمائي چې" کله زه بيماره شوم نو رحمتِ کونين صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د بيمارئ تپوس اوفرمائيلو، او ما ته ئې اوفرمائيل: اے اُمِّ عَلاء! د خوشحالي خبر! واوره چې د مسلمان بيماري د هغه نه ګناهونه داسې لرې کوي لکه څنګه چې اور اوسپنې او د سپينو زرو نه خيرے او ګند لرې کوي." (ابوداود، 3/246، حديث: 3092)

ہر صحابیِ نبی! جنّتی جنّتی
سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## (11) تبے سترے کړے دے

رحمتِ عالَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د انصاري صحابيه د بيماري تپوس اوفرمائيلو او د هغې نه ئې پوښتنه اوکړه چې څنګه محسوس کوې؟ نو هغې عرض اوکړو: ښه يم! خو دې بيمارئ زه سترې کړې يم. (دا چې ئې واوريدل نو) حُضُورِ اَنوَر صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: صبر کوه ځکه چې تبه د انسان ګناهونه داسې لرې کوي لکه څنګه چې د اور بهټۍ د اوسپنې نه زنګ لرې کوي. (معجم کبير، 24/405، حديث: 984)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دي په هغې رحمت وي او د هغې په صدقے سره دي زمونږه بے حسابه مغفرت وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہر صحابیِ نبی! جنّتی جنّتی

سب صحابیات بھی! جنّتی جنّتی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنَّتو د تربیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښار ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com